PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانگرآرمان اتحاد اسلامي افغانستان

پرلـه پسـی گنـېـه « ۲۱۱ » اوم کـــال « ۱۳ » گـــڼه دوشـــنبه
د ۱۳۷۰هـ ش کـــال دجـــوزا« ۲۷ » د ۱٤۱۱ هـ ق کــــال
د ذالحجة « ٥ » اود ۱۹۹۱ میلادی کـــال دجون « 17 » نیټه

روسها با بمباران مواضع مجاهدین در ولایت بادغیس در سرحد روسیه به مداخله در امور داخلي افغانســتان ادامه میدهد

عملیات مجاهدین برمواضع رژیم کابل در ولایت بادغیس و اطراف شهر محاصره شده، قلعه نو مرکزاین ولایت که ازبیست روز پیش آغاز شده ، طیارات روسي نیز ازخاك آنکشور پرواز و به بمباران مواضع مجاهدین ادامه میدهند .

راپور میافزاید که عملیات ملیشه هاي دشمن نیز علیه مجاهدین در اطراف شهر قلعه، نو تحت چتر طیارات روسي ادامه یافته است .

منبع مي افزاید ، درجریان درگیري مجاهدین با ملیشه هاي یاد شده بتاریخ (۹) جون ،٦ ملیشه به اسارت گرفته شده اند .

یك راپور دیگر حاکي است که (۲۰) نفر از افراد ملیشه بروز ۸ جون در جریان درگیري مجاهدین و حامیان رژیم کابل در منطقه مقر در جنوب ولایت بادغیس به مجاهدین تسلیم شده اند .

دپروفیسور سیاف لخوا پاکستانی قوم اوحکومت ته په سرخلاصی لیك کښي دوروری مشوره

مونږ له پاکستان او پاکستاني ولس سره د ايمان او إسلام په مقتضی مينه لرو . پاکستان د هجرت په سختو شپوکی مونږ ته د وروری شوده غيږ خلاصه کړه او په دې دولس کالوکی يې مونږ ته د پردو په سترګه ندي کتلي .

زمونږ مينه او آرزو اودهو يا احساسه مسلمان پاکستاني آرزوداده چې مونږ دې پداسي حال کی بیرته خپل وطن ته ستانه شو چې ملك مو د اسلام د واقعی نظام ترسيوری لاندې آزاد شوی وي ، اود پاکستانی قام مینه او محبت مو په زړه کې د پارونيته سوغات په توګه له ځان سره دری وي اود – افغان پاك – د قامونو د مینی او محبت په نتیجه کی دې منطقه کې داسې يو اسلامي قوت او حيثيت رامنځ ته شوی وي چې د مسلمانانو د آزاد او با عزته ژوند تضمين وکړي .

خودا اوس اوس دروس اوامريکا پلانونه داسې روان دي چې دا حالت به

مجاهدينو د بغلان په ولايت کښې د کابل رژيم دري پوستي فتح او ۱۰ مليشه اوعسکر يې ژوندي ونيول

دبغلان ولايت نه دراړسيدلي خبر له مخي مجاهدينو دجون په ۱٤ نيټه ديلخمري ولسوالي دنوخاب دکيله کي نسيمي برپوستو عمليات ترسره کړل چې دهغي په نتيجه کښي دړژيم دري پوستي فتح ۸ تنه مليشه مړه (۱٥) تنه ټپيان او ۱۰ تنه نور ژوندي نيول شوي دي .

خبرځاي زياتوي مجاهدينو په دغه جګړه کښي ۲۰ ميله کلاشينکوفونه څلور ميله ثقيله وسلي ٥٠ صندقونه د ټول ډول وسلوګولي ولجه کړي دي .

دخبر مطابق په دغه برېد کښي دمجاهدينو څخه دوه تنه شهيدان او ۳ تنه نور ټپيان شويدي

به اثرآب خیزی دریاي نوشهره بیش از یکهزار خانه زیرآب گردید

یکشنبه گذشته ۱۹ جوزا به اثر فیضانات دریاي نوشهره بیش ازیکهزار خانه از کمپ هاي مهاجرین که در ساحل دریاي مذکوراقامت داشتند،زیرآب گردید.

فیضانات آب حوالي ساعت ۹ بجه شب کمپ هاي مهاجرین ازاخیل ، و خزانه ، وادي زي را فراگفت ، ومردم هیجان زده و پریشان درحالیکه اطفال و اعضاي فامیل خودرا گرفته بودند به نجات جانهاي خود پرداختند ، و همه اسباب و لوازم خانه ایشان در زیرآب ماند .

هرچند که این حادثه، تلفات جاني چندان نداشت ، ولي ازنقطه نظرخسارات مالي مشکلات بزرگي را براي مهاجرین باراورد ودرین جریان بعضي از مهاجرین هدف حمله مارهاي کوهي که سیلاب باخود آورده بود قرارگرفته و شهید شدند.

همزمان با وقوع این حادثه ، بعضي از تنظیم هاي جهادي در رأس اتحاد

مجاهدينو د غزني په ولايت کښي د کابل د کمونست رژيم ۲۰ تنه عسکر اوملیشه وژلي دي

دغزني ولايت څخه په راړسيدلو رپوټونوکښي ويل شويدي چې مجاهدينو دکابل دملحد رژيم هغه تعرضي برید چې دجون پـه ۱۲ نيټه دغزني دښار پـه مربوطاتوکي دمجاهدينو پرمرکزونوکړي وه په شاه تمبولي اودرژيد ۲۰ تنه عسکر

د ملګرو ملتونو اداري د عراق د حکومت موافقه ترلاسه کړيده چې خپل پنځه سوه کسيز پوځ د ملګرو ځواکونو په ځاي د عــراق شمال ته وليږي

بي- بي- سي- د جوزا ۲٥

په رسمي توګه تراوسه پوري د عراق د شمال نه د امريکا ترمشري لاندي د مېشته قواؤ د ،تلو د ټاکلي نېټه نه ده څرګنده شوي خو په ښکاره توګه داسي خيال موجود دي چې د امريکا اودهغي ملګري هيوادونه غواړي په راتلونکو څو اونيو کښي خپل پوځونه د عراق له شمال څخه وباسي خو اوس کوم مشکل چې د ملګرو ځواکونو په وړاندي پروت دي هغه داچي څرنګه د کردانو د امنيت په هکله ځان ډاډه کړي ځکه داسي ويره شته که ملګري ځواکونه د عراق د شمال څخه په وتلو پيل وکړي ښائي چې عراقي کړوال هم د عراق نه د باندي هغو کمپونو ته بيا پناه يوسي له کومونه چې خپل هيواد ته راستانه شوي ؤ نو ددي لپاره چې د داډول مهاجرت مخنيوي شوي وي نو د امريکا حکومت غواړي چې خپلي جنګي قواوي تړلو وروسته د عراق د شمال نه وباسي

د ملګرو ملتونو اداري د عراق د حکومت موافقه ترلاسه کړي ده چې خپل پنځه سوه کسيزه يو پوځ د ملګرو ځواکونو پرځاي د عراق شمال ته وليږي خو پدي لړکښي ويره داده چې آيا د ملګرو ملتونو دا ډاډ به د عراق په شمال کښي د کردانو پوره امنيت وسائلي شي اوکنه دا لاځکه د عراق د حکومت په باور اواعتماد باندي د نوي شکونو د پيداکيدو له کبله نوره هم پيچلي شويده . راپور زياتوي دهغي ادعا په أساس چې عراق غواړي د نوموړي هيواد په جنوب کښي په شيعه ګانو باندي د بريد لپاره تياري نيسي ، مخشرشيتا موجوده ده البته ددي

د سروبي او يغمان په ولسواليو کښي مجاهدينو ددښمن ٥٠ تنه وسله وال پلويان ژوندي ونيول

مجاهدينو دکابل ښاريه لرختيزه دسروبي ولسوالي دچاړوازګي په سيمه کښي دکابل رژيم په پوستويانو دجون په ۱۲ نيټو حمله وکړه چې پکې يوشيمر پستي ويجاړي کړي شوي او ٥٠ تنه عسکر دځلورميله پيکا ماشيندار او ځلور راکټونو ار ، پي ، جي ۷ او ٤١ ميله کلاشنيکوونو سره بنديان نيولي دي

دروسيي د داغستان په جمهوريت کښي دمسلمانانو سختي مظاهري

ورځپاڼه پاکستان – دجون ١٦

د روسيي دداغستان په آيالت کښي د مسلمانانو له لسو ورځو سختو مظاهرونه وروسته اضطراري حالت نافذ شو . د تيري پنجشنبي په ورځ داپالت په مرکز مخاچا کلاکښي په زرګونو مسلمانانو د حج د مصارفو د کمولو په حق کښي مظاهري وکړي .

د تاس د خبري آژانس د رپوټ له مخي په دغو مظاهرو کښي څوك زخمي يا مړه شوي نه دي خو د اسلامي تنظيم يوه مشروبلي دي چې يوتن وژل شوي او ٤ تنه ټپيان شوي دي .

د بي . بي . سي راديو د جوزا د مياشتي په ٢٥ نيټه د خپل خبريال له خولي وويل :

د روسيي د داغستان د جمهوريت په سلوکي ۸٥ خلك ټول مسلمانان دي اود خپلي دينداري له امله زيات شهرت لري اود ستالين په زوورونکي رژيم سربيره په داغستان کښي د صوفيانو ملهبي سازمان ژوندي پاتي شوي دي . اوس د روسيي خبري آژانس د تاس « راپورورکوي چې په دغه جمهوريت کښي د دوه اونيو راپديخوا مسلمانانو د حج د شرايطو په سر سخت احتجاجونه په لاره اچولي دي . د روسيي حکومت اعلان کړي چې څوك چې غواړي سعودي عربستان ته د حج په غرض سفر وکړي بايد چې (۳.) زره روسي روبله چې په روسيه کښي د يوتن د (۷) کالو اوسط معاش دي ورکړي . همداراز دي کسانو د حاجيانو د شمير په سر چې سرکال (٤...) تنه ټاکل شوي دي احتجاج کړي دي چې له دي جملي نه د داغستان د خلکو سهميه (..۱۲) تنه ختلي ده پداسي حال کښي چې څه د پاسه لس زره تنو داغستانيانو د حج د مراسمو د اداکولو غوښتن ليکونه ورکړيدي

مجاهدينو په يوه راکټي حمله کښي د کابل رژيم د نيمه سکو توغوندي يوه دستګاه د کابل د بند قرغي په يوستراتيژيکه قرارګاه کښي تباه کړيده

دراړسيدلو رپوټونو په حواله ويل شويدي چې دکابل ولايت دشکر دري ولسوالي مجاهدينو دکابل ښار په شمال غربي ښاري حوزه کښي دکابل رژيم دقرغي په اومي فرقي نيمه سکو ستراتيژيکه قرارګاه باندي دجون په ۱۳ مه نيټو بريدونوکښي ۱۰ تنه عسکر اوصاحب منصبان وژلي او دنيمه سکو توغندي دستګاه ئي تباه کړيده .

خبرځاي دريوټ له مخي زياتوي چې دکابل کمونيست رژيم دري قرارګاؤ څخه دکابل ښار دړژيم دقواو دساتني پخاطر ديغمان ، للندر ، ارغندي علياء ، اوميدان اوشاوخواسيمو دمجاهدينو مرکزونه او دبزګرانوجو ګړي داوراګان توغنديو دوزو لاندي نيولي چي بالاخره داوردي جګړي نه پس دمجاهدينو په لاس ويجاړه کړکشويده رپوټ وائي چې مجاهدينو پدي بريالي

١٧ تن از مليشه هاي رژيم ملحد مستقر درکوه صافي در شرق کابل به اثر عمليات مجاهدين به هلاکت رسيدند

يك منبع مجاهدين به (ميديا) گزارش داد ، که مجاهدين به روز (۱۲) جون بالاي پوسته هاي منطقه، جارو، آبدره و سرك جديد کوه صافي ، عمليات انجام دادند که در نتيجه سه پوسته حريق ، دو عراده موترنظامي و سه عراده تانك محاربوي تخريب و (۱۷) تن از مليشه هاي رژيم ملحد به هلاکت رسيدند .

گزارش مي افزايد که مجاهدين درين نبرد يك ميل زيکويك و هفت ميل سلاح خفيفه به غنيمت گرفتند .

در خبر تلفات مجاهدين دو مجروح ذکر شده است .

راجيـــو تـــه د خپـلي كـــورنـــى د ګناهـونـوسـزا ورکـړل شــوه

دراجيو مرګ ددء مقدرؤ – ده ته د خپلو ګناهونوسزاورکړل شوه . ده د خپلي موريه څېر زيات دښمنان ځانته پيداکړي ؤ . دهند هيڅ يوسياستمدار د خپل اقتدارپه دوركښي دومره مال او پيسي ندي جمع کړي لکه راجيوچي تردري پښته پوري ورته کفايت کوي . ددي خبرو څرګندونه يو هندو ليکوال (تم مراري) د خليج ټايمز سره په يوه مرکه کښي کړيده .

نوموړي وائي چې د راجيو قتل کومه حيرانونکي پېښه نده . ده ته د خپلي کورنۍ د ګناهونو سزاورکړل شوه . مراري ليکي چې راجيو د خپل دغسي انجام څخه نشو خلاصيداي ، څېره همدومره وه چې دا پېښه به کله او چيرته په ترسره کيږي . راجيو د خپل انتخاباتي مبارزي په دوران کښي داهيڅ ته ګيله چې دي به وژل کيږي نوځکه په آزادانه توګه يې د خلکو په ګڼه ګوڼه کښي ګهون وکړ – اوخلکوسره يې غاړه غړي روغبرکاوه دده دا جرأت يو احمقانه کار ؤ ځکه چې ده هم لکه د خپلي مور په شان ډېر زيات دښمنان ځانته پيداکړي ؤ .

مراري ليکي لکه د دال او چپاتي په څېر هندي خلك بغير د وله وله بازي څخه وخت تيرولاي نشي نودلته حکه يوڼه يو سياستمدارددغه وله بازي ښکار ګرځيدلي شي .

هندي سياستمدارانو کښي چې د ولو ټپلو سرپرستي يې کړي د نهروکورني په هغي کښي سرفهرست اولوړي مقام لري کوم چې د (٤.) کالو راهيسې په هند باندي حکمراني کړي . نهرو د محاذ آرائي

د هـنـدي قـواؤ سره په يوه نښته کښي (۱۰) تنه پاکستاني پوځيان شهيدان شول

د وټس اف جرمني د خبري آژانس

د سه شنبي په شپه هندي قواؤ د کنترول لاين د پاسه په يوه پاکستاني پوستي باندي د ناڅاپي حملي په ترڅ کښي لس تنه پاکستاني پوځيان شهيدان ګرځيدو .

دوينا له مخي دا حمله د شپې په تياره کښي ترسره شوي . او ويل کيږي چې پوسته په کلي توګه له مينځه تللي او هندي قواؤ داتور لګولي چې پاکستاني پوځ په هندي قواؤ د حملي تيت درلو .

د هرات ولايت د غوريانو اوزنده جان ولسوالي د کابل رژيم د قواؤ لخوا د هريرود سيند د نهرونو بند ولو په اثر ځلويښت زره کورني ښارخوا سيموته په هجرت مجبور شويدي

دهرات څخه په راړسيدلو خبرونوکښي ويلي شويدي چې دکابل رژيم قواؤ دهرات ښار په لوديزه دزنده جان او غوريانو ولسواليوکښي دهريرود دسيند دپاسه داويو نهرونه دجون د۱۲ نيټي راهيسي دسيمي دبي دفاع بزګرانو اومجاهدينو دکروندي په لورېندکړي او تقريباً ځلويښت زره ميشته کورني شاوخوا دکوهستان ، ګلران ، او انجيل ولسواليو او دايران سرحدي سيموته دخپلو ځمکو او کورونو نه په هجرت کولو مجبوره شويدي .

دريوټ مطابق دکابل دکمونيست رژيم لخوا دغوريانو اوزنده جان دنهرونو بندوولوپرګرام دزنده جان او غوريانو ولسواليو دمجاهدينو څخه دغو اخيستلو په سبب ترسره شوي اوهم مجاهدينو درژيم ددي اقدام په مقابل کښي دهرات او تورغونډي بندرترمنيځ لويه لاره پدغه سيمه کښي مکمله تړلي ده .

خبرځاي زياتوي دغوريانو اوزنده جان دوه ولسوالي دپنبي ، ميوه جاتو اوسبزيو او نورو موسمي فصلونو دتازه ساتلو لپاره د اويه خوړ بل سيستم وجود نلري او خلکو داويو څښلو لپاره دڅاګانو دمالګينو اويو داستعمال سره لاس په ګريوان شوي کومي چې دصحت لپاره زيانمني دي .

په خبرکښي زياته شويده چې مجاهدينو په دغه ورځ دزنده جان ولسوالي لوديزته درژيم دقواؤ يوعراده ټانك دصلي سره په راکټونو داورلمبه کړي او هم مجاهدينو دزنده جان لرختيز ته دکمونست رژيم دقواو حمله په شاه تمبولي (٤) تنه کمونستان يي وژلي او (٨٠) تنه نوريي ټپيان کړيدي .

د فلپين د حکومتي قواؤ اود مورو د اسلامي جبهي د مجاهدينو ترمنځ درنې نښتي شويدي

د « اف پ » د خبري آژانس د رپوټ له مخي ويل کيږي چې د فلپين په جنوبي ولايت (مګنداناؤ) په يوه کلي کښي د حکومتي قوا، اود مورو د اسلامي جبهي د مجاهدينو ترمينځ سختي درني نښتي شوي د يادوني وړده چي دغه سيمه د مورو د مجاهدينو لخوا تيره پنجشنبه فتح کړاي شوي وه . نوموړي سيمي باندي د حکومتي قواؤ د ناڅاپي برید په نتيجه کښي ۱۱ کسان وژل شويدي دغه نښته چې د « جوبګالنګن » سيمي ته نژدي پيښه شوي وه په دغه نښتوکښي د مورو د جبهي د پنځه تنه غړو د مړه کيده برسيره (٦) تنه کلبوال هم وژل شويدي .

په کويټ کښی يوی نظامي محکمي اوه تنه نور په اعدام محکوم کړيدی

په کويټ کښي يوي نظامي محکمي د عراقيانو د اشغال په وخت کښي د عراقيانو سره د همکاري په جرم اوه تنه نور کسان په اعدام محکوم کړيدي اوکه چيري د اعدام فتوي عملي کړي نو ددي اوه تنوسره به دوه تنه نورچې پخوا تردي په اعدام محکوم کړي شويدي په دار وځړوي .

په اعدام باندي د محکوم شويو خلکو څيه برخه اواکثريت د فلسطينيانو دي . لکه چې محکمي ته ويل شوي ، دوي د يوي ورځپاڼي سره چې د عراق لپاره يې چلوله کارکاوه . دوي له جرم څخه انکار وکړ خو دوي د پوليسو د يوصاحب منصب د شاهدي په اساس چې د يونا معلوم مخبرڅخه يې بيان ورکړ محکوم کړل .

په محکوم شويو خلکو کښي يوه لبناني ښځه هم شامله ده هغي وويل چې ماته د عراقيانو لخوا تهديد ورکړشوي ؤ که دي لدي وروځپاڼي سره همکاري ونکړي نودوي د لور په حيثت به حمله وکړي .

جمهـوريت هـاي سلـووينـيـاوکـروشياي يوګـوسـلاويا در صـدد استقـلال کامـل ازحکـومت مـرکـزي

بلګراد –۲٦ جوزا

رهبران جمهوريت هاي سلووينا وکروشيا دريوګوسلاويا ميګويند تاپنجم ماه سرطان استقلال کامل جمهوريت هاي شودرا ازحکومت مرکزي اعلان خواهد کرد .

تانيوک آژانس خبررساني يوګوسلاويا ميګويد که رؤساي جمهور سلووينيا وکروشيا اين تاريخ را طي ملاقاتي بروز شنبه درشهر لوبلينا پايخت سلووينيا تعيين کرده اند . طبق ګزارش آنها درعين زمان موافقه کردند که مذکرات را بامقامات حکومت مرکزي ادامه بدهند . کروشيا وسلو- وينيا طرفدارلوك اتحاد آزاد دولت هاي داراي حاکميت ميباشند درحاليکه رهبران کمونيست درجمهوريت صربيا مبارزات خودرا براي حفظ اتحاد فعلي پيش ميبرند .

د ۱۹۸۷ ع کال څخه راهيسې ايراني حاجيان د لومړي ځل لپاره د حج په مراسمو کښي برخه اخلي

د ايران راډيو رپوټ ورکړي د حج په

د سعودي عربستان د خبرونو له مخي ويل کيږي چې د ايران د بهرنيو چارو وزير علي اکبر ولايتي د حج په نيت « جده » ته رسيدلي دي .

مراسمو کښي د برخي اخستلو نه برسيره علي اکبر ولايتي به د دواړو هيوادونو اړيکو په باب د سعودي عربستان د رسمي مقاماتو سره په خبرو اترو کښي

هفته نامه
اتحاد اسلامی
بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان
دامتیازخاوند : دافغانستان اسلامي اتحاد
دتأسیس نیټه : ۱۳٦٤ کال دعقرب میاشت
خپروونکي اداره : ددعوت وارشاد ریاست فرهنگي څانگه

سرمقاله

دلوی اوسترگی خدای په نامه

بیت العتیق

دشپږ اوورځو، اونیو اومیاشتو له اوږدونه وروسته یوځل بیا هغه موسم راورسیده چې د نړۍ له گوټ گوټ نه د توحید د شمعې خواوشانه دهری ژبې ویونکي اودهرنژاد لرونکي پتنگان د لکونو لکونو په شمیرکېنې درټول شوی دی اودهغې گرد چاپېرطوافونه کوی اوطواف هغه یوازنی عبادت دی چې له بیت العتیق « کعبې » نه پرته بل چیرته نشی اداکیدای ، کعبه د بندگۍ او انابت ، فلاح اوسعادت په هلوځلوکښی د مسابقې له پاره د الله تعالی له خوا یوټاکل شوی نښان دی ، هغه نښان چې پخوانیو امتونو ضایع کړی ؤ او محمدی امت ته یوځل بیا څرگند کړی شو اودعوت ورکړشو چې د توحید ددغې شمعې نه د پتنگانو په څیر گرد چارپیر وچورلیږی اوهغه حقیقت قدم په قدم سترگونه ودروی اوپه خپل ذهن کښې دهغه ستر تاریخ تازه کړلو هڅه وکړی چې د بیت العتیق په هره تیږه باندې نقش دی . داهغه کوردی چې ابراهیم خلیل الله او اسماعیل ذبیح الله په خپلو مبارکو لاسونو سره ودان کړی دی . داهغه کوردی چې ددې دنیا په بتخانه کښې د یوه خدای د عبادت لومړنی مرکزدی . دهمدې کور ترڅنگ دمروه غونډۍ ده چې دهغې په لمن کښې د فلك سترگو د خدای درضا له پاره د نازولی زوی پرمرۍ باندې د خواخوږی اوله درندو امتحانونوڅخه په بریالیتوب سره وتلی سپین ږیری پلار چاړه ایښودل اود اسلام د حقیقت ځلنده بیلگه لیدلی ده . داهغه کوردی چې خدای دهغه چارچاپیره پلنې دښتې د مسلمانت دودې اوپرمختگ له پاره انتخاب کړی چې دهغه په وسیله د نړۍ ټولو قومونو اوملتونو ته د اسلام دعوت رسیدونکی اودخدای رحمت وریشل کیدونکی ؤ . داهغه کوردی چې د حضرت سیدنا ابراهیم علیه السلام له وخته راهیسې پرله پسې د سپیڅلیو هستیو قبله ده اوهلته دومره انسانانو د طواف او اعتکاف اودرکوع اوسجدې سعادت گټلی دی چې لکه څنگه چې د ځمکې د بڅرو اود اسمان د ستورو شمیرل ناممکن دی همدارنگه ددغو سپیڅلو هستیو شمیرل هم ناممکن دی ، دغه کورته نژدې هغه میدان دی چې دهغه د شگو هره ذره د توبې او استغفار د سجدو شاهده اود خدای له ویرې نه د ژړیدونکو انسانانو د اوښکو د ملیاردونو څاڅکو امانتداره ده . هغه څاڅکی چې د شپې په چوپه چوپتیاکښې د مینانو له سترگو څاڅی اونه لیدل کیدونکي ویالی ترینه جوړیږی اود گناهونو خیری وینځي . هغه میدان چې د امت وسط د همرنگۍ اواتحاد مظهردی اود اسلام د عظمت او جلال ښکارندوی . د همدې کور په یوگوټ کښې هغه مقدسه تیږه ده چې خدای هغه له وینځلي لاس سره تشبیه کړی ده اوپه لاس سره د هغې په لمس کولو یا په شونډوسره دهغې په ښکلولو لاکونو او ملیونونو پیغمبرانو ، صدیقانو ، صالحانو او نیکانو له خپل پروردگار سره د بندگۍ او وفادارۍ ژمنه کړی ده اوکال په کال د لکونو لکونو مؤمنو بندگانو له خوا ددغې ژمنې اوتعهد تجدید کیږی.هرزیارت کوونکی اوطواف کوونکی په لمدوسترگو ، سترۍ گوگل اوامیدواره زړه له خپل پروردگارنه دا التجا کوی چې د گناهونو هغه ملامتوونکی بیتې یې له اوږو څخه کوز کړی چې له هغه سره دلته راغلی دی اودغه ستر الهی مرکزته یې پناه راوړی ده . همدې کورته نژدې هغه جمرات دی چې ددې کور ددښمنانو د ذلت اونسکوریدو ځلی اویاد گارونه دی اوپه هغویاندې د تیږو په اورولو سره مؤمنانو تل په خپل ځان کښې ددین اوددین د سترمرکز بیت العتیق ددښمنانو پرضد د جهاد کولو روحیه پیاوړی کړی ده اوترټولو لویه خبره داچې د همدې کور په سیوری کښې د خدای وروستی پیغمبرمحمد مصطفی صلی الله علیه وسلم وده وموندله چې دهغه په راوړی نور اودنیا سره د نړۍ توره تیاره شپه په سپین سهار بدله شوه . د شیطان نظام نسکورشو ، الهی نظام حاکم شو ، طاغوتی طاقتونو له خپل ټول وحشت اوظلم سره سره بالاخره د حق په مقابل کښې ماتې وخوړله ، انسانان د غلامۍ له زولنوڅخه آزاد شول د انسان په ورانډې د انسان . بندگۍ لعنتی زنځیر وشلیده اوخلك د خدای د غلامۍ اوبندگۍ ساحې ته چې په حقیقت کښې بشپړه آزادی ده داخل شول ، ظلم په عدل بدل شو ، وحشت په اُنس او الفت بدل شو ، دښمنی په ورورولی بدله شوه او بالآخره حیوانیت په مهذب انسانیت بدل شو .

داکور دهغوروحانی خزانو زیرمتون دی چې له سیدنا ابراهیم علیه السلام نه واخله ترمحمد رسول الله صلی الله علیه وسلم پورې په دغه کورکښې په ودیعت ایښودل شوی دی . یا په بل عبارت داکور د قوت هغه سترمرکزدی چې ټول امت ورڅخه ژوند ، حرارت ، رڼا اوقوت ترلاسه کوی ، داکورد روحانی او ایمانی ژوند یوازنی وسیله ده . ددین په اجتماعی نظام کښې دغه کور همغسې اهمیت لری لکه د بوجسم په نظام کښې چې زړه اهمیت لری ، لکه څنگه چې له زړه نه پرته د جسم وجود نشته همدارنگه له دغه کورنه پرته ددین څه تصورنشته . ددغه کور زیارت اوطواف ته هرکال د لکونو زیارت کوونکو او طواف کوونکو ورتگ کومه عنعنه نده

حج بزرگترین مظهر وحدت مسلمانان

عبدالحق « عتید »

فریضه، حج و زیارت بیت الله الحرام یکي ازان فرایض پنجگانه ایست که خداوند اداي آنرا برهرفرد مسلمانیکه قدرت و توانائي انجام آن را درخود داشته باشد لازم گردانیده است ، واین فریضه بنوبه، خویش در ایجاد تکافل ، وحدت وهمبستگي میان مسلمانان رول بس مهمي دارد ، و مسلمانان ازسراسرجهان درسال یکبار در مکه، مکرمه جمع میشوند ، و با فرارسیدن موسم حج به اداي مناسك و شعایرحج مي پردازند .

این فریضه که درسال نهم هجري ازطرف خداوند برمسلمانان فرض گردیده است ، یك رکن دیگري را برارکان چهارگانه اسلام افزود ، و مظاهر وحدت واخوت اسلامي را در مقدس ترین مکان روي زمین که عبارت از مکه مکرمه است ، و دربهترین موسمهاي سال که ماه ذي الحجة است ، انعکاس بخشید .

بلي شعایر اسلامي هرکدام بنوبه، خویش داراي مزایاي روحي و مادي است ، و اساس همه، آن براساس عقیده و ایمان استواراست ، ایمان به وحدانیت خداوند در ذات و صفات و افعال ، و ایمان به پیامبران جلیل القدر ، وکتابهاي مقدس آسماني ، و یقین باور به روز واپسین که دران بندگان خدا مورد محاسبه أعمال خود قرارمي گیرند ، و همه طبق عملکرد خویش پاداش دریافت میدارند . واین شعایر بدون داشتن چنین عقیده درست ، مبتني برارشادات ورهنمودهاي پیامبر جلیل القدر اسلام – صلي الله علیه وسلم – نزد خداوند مقبول نگردیده ، و صاحبش ازان بهره، نخواهد برد ، مسلمان باید بکوشد تا قبل ازهمه چیز ضرورت هاي دیني خویش را بشناسد ، و از علماء، دانشمند ، و فقهاء نامور کسب علم نماید ، خوب را بشناسد ، ازبدیها اجتناب ورزد ، و هرآنچه راکه به عقیده و ایمان اوت ثات دارد ، دور اندازد ، و درهمه، شئون زندگي خویش حصول رضاي خدا و اتباع سنت رسول خدا را درچوکات تعلیمات مذهب خویش هدف قراردهد ، و به انجام کارهاي خیر و فضلیت ، صدقات و خیرات بازجوئي ازاحوال مستعضفین و نیازمندان ، مبادرت جوید ، و یقین کامل داشته باشد که اینهمه کارهاي نیکي راکه در جامعه، خویش با برادران دیني خود انجام میدهد بي فائده نه رفته ، و در حالت بعد از مرگش اورا نفع خواهد رسانید .

هم چنان حاجي در مواقف مختلف مناسك خویش مشاهد خاصي را نظاره مي کند ، اومي بیند که مسلمانان از گوشه و کنارجهان از اقوام و ملیت هاي مختلف ، با رنگها و زبانهاي متمایز گردهم جمع شده ، طواف خانه کعبه میکنند ، و سعي میان صفا و مروة بجا مي آرند ، وروزگاري راکه حضرت ابراهیم و اسماعیل و هاجر دران زندگي کرده اند ، بیاد میآورد . حضرت ابراهیم علیه السلام بود که در همان وقت مارا مسلمان خواند ، و اوبود که مردمان را به حج خانه کعبه دعوت داد ، و او و حضرت اسماعیل بود که بناي کعبه را بلند کردند ، و هاجربود که خودرا به خداوند سپرد ، و سکونت در وادي لامزروع و در جانب بیت الله الحرام را پذیرفت .

و آنگاه که حجاج خودرا در وادي مني مي یابند ، همه با یك لباس و یك شعار گردهم جمع شده اند ، و لبیك گویان به سوي عرفات که بمثل روز جزاست راه مي افتند ، و ساعات چند را درین مکان با ذکر ودعا ، نیایش و استغفار سپري نموده ، و همه دست بسوي خدا بلند کرده اند ، و هرکدام راز ونیازي بخداوند دارد ، این مظهر مایه، شگفتي آدمي است که چگونه اینهمه خلایق بایك رنگ لباس و بازبانهاي مختلف دریك خط جمع شده اند . آیا این مراسم جز در چوکات امر الهي امکان پذیر خواهد بود ؟ ابداً .. نه ، جزاینکه یقین کند که خداوند عالمیان دلهاي آنهارا به خضوع وتسلیم به امر خود ، توفیق نصیب فرموده است ، و آنگاهیکه آفتاب روز عرفات در افق مغروب فرومي رود و سیاهي شب آهسته آهسته بران چیره میشود همه یکدم به امر پروردگارجهان رحل سفرازان برمي بندند ، و درحال سرخي شفق روبه سوي مزدلفه – که درخطي میان عرفات و مني قراردارد – مي نهند ، مشهد این کاروان عظیم سفید پوش اثري دیگري در روح وروان آدمي مي آفریند ، و همه شبانگاه دریك جاي جمع میشوند و ازحدودیکه پیامبرگرامي براي شان معین فرموده پا بیرون نمي گذارند ، واین شب را نیز به ذکر ودعا سپري مي نمایند ، و صبحگاهان درآخرین لحظات شب باز کاروان به راه مي افتد ، سرك ها و جاده هاي وسیع مني پر از ازدحام مردم است و همه سعي بران دارند که شعار – زدن – جمره، عقبه بجا آرند ، سیل ازمردمان بدان سو درحرکت مي افتد ، و آنگاه روبه قربانگاه نهاده باریختاندن خون ذبیحه، خویش وحلق موي سر، لباسهاي خود را عوض مي کند ، و به این ترتیب یك بخش بزرگ ازشعایر حج به پایان مي رسد .

فریضه حج خصوصیت هاي مهم و ارزنده، دارد که حضرت رسول اکرم – صلي الله علیه وسلم – بدان تصریح نموده و فرموده است : « کسیکه حج کند ، ودشنام ندهد ، وازاطاعت (خدا) بیرون نشود ، بازگشت او چنان هست که گویا نوازمادر زاده شده باشد » روایت این حدیث امام بخاري نموده است .

ودرحدیث دیگریکه حضرت جابر رضي الله عنه از پیامبرخدا روایت مي کند آمده است : جزاي حج مبرور جز بهشت چیزي دیگري نیست ، گفته شد : نیکوئي حج مبرور چیست ؟ فرمود : طعام دادن ، و سخن نیك گفتن » روایت این حدیث احمد و طبراني و بیهقي نموده است .

حضرت رسول خدا – صلي الله علیه وسلم – خود شخصاً حجة الوداع را درسال دهم هجري مطابق ٦۳۱ میلادي اداء نمود ، وي درحالیکه پنج شب از ذي القعده مانده بود که بقصد حج ، ازمدینه روانه بیت الله شریف شد ، ومدت سفر او ده روز را در برگرفت ، چون به مکه رسید ، شروع به تعلیم دادن مناسك براي مردم نمود ، و به ایشان گفت : « مناسك حج خودرا ازمن آموزید » .

حضرت رسول خدا – از حجة الوداع خود – در روز چهارشنبه ۱٤ ذوالحجة از مراسم خود فارغ گردید ، و این حج رسول خدا را ازان جهت حجة الوداع خوانند که آنحضرت چون به مردم در روز عرفه و مني خطبه ایراد نمود گفت : « شاید بعد ازین سال دیگر شمارا نه بینم » بعضي اصحاب ازین سخن آنحضرت چنین فهمیدند که این حج خدا حافظي او خواهد بود ، و این موضوع را درمیان خویش به بحث و مناقشه گرفتند ، اما این موضوع ازخاطرشان بدور بود که وي با آنها وداع نموده و بسوي خداي خود مي رود .

و فعلاً آنحضرت – صلي الله علیه وسلم – بعد ازگذشت سه ماه ازحجة الوداع پدرود حیات گفتند و به رفیق أعلي پیوستند .

این حج رسول خدا به نامهاي دیگري نیز مسمي شده ، ازقبیل (حجة البلاغ) زیراکه رسول خدا-درین حج بسیاري احکام اسلام را درین حج به مردم ابلاغ نمودند و براي شان فرمود : « ألا هل بلغت . اللهم فاشهد » و به (حجة الاسلام نیز نام یافته ، زیرا این یگانه حج است که رسول خدا بعد ازهجرت به مدینه ، وبعد ازفرضیت آن از طرف خداوند ، ادا نموده است .

و (حجة الرسول) نیز گفته شده ، زیرا رسول خدا بعد ازهجرت – بدون همین حج – دیگر هیچ حج نکرده است .

درخطبه که آنحضرت در روز عرفه ایراد نمود ، مبادي حکومت در اسلام ، و اساس زندگي آزاد و آبرومند را براي انسان درهرزمان و مکان ، بیان داشت ، واین خطبه نقاط اساسي و مهمي را دربرداشت ، و آنحضرت بعد از تقدیم حمد و ثنا برخداوند فرمود : « اي مردم : خونهاي تان و مالهاي تان و آبروي تان برشما حرام است تا آنکه به ملاقات خداوند مي شتابید ، مثل حرمت امروز تان ، درهمین ماه تان ، ودر همین شهرتان .. آگاه باشید آیا پیام خدا را به شما نرساندم ؟ خدایا توخود شاهد باش » ...

و به این ترتیب رسول خدا براي شان خاطرنشان ساخت تا حرمت خون مسلمان بشناسند و بي موجب در ریختاندن آن مبادرت نجویند ، و هرگاه اگر کسي چنین کند در واقع اوبرنفس خود مرتکب گناهي بزرگي گردیده است . و قتل نفس در نزد خدا از بزرگترین گنا هان محسوب مي گردد .

زیرا زندگي وحیات عطیه وبخشش است ازجانب الله ، هیچ یك حق بازگیري حیاتي کسي راندارد مگر درچوکات امر خدا .

و حتي رسول خدا کشتن نفس مسلمان را بناحق نوعي ازکفردانسته و فرموده است : « بعد از رحلت من به کفري برنگردید که سرهاي یکدیگررا بزنید » .

هم چنان درین خطبه بر احترام حفظ مال تأکید شده و تجاوز بران را ازجمله گناهان محسوب داشته که در صورت مخالفت ازین امر ، مورد عقوبت و جزاي شرع قرارمي گیرد ، اگر سرقت نماید دستش بریده میشود ، واگر آن را تلف کند ، خساره، آن رامي پردازد . و در هرصورت به اصل حمایت و دفاع ازمال مشروع مسلمانان مي پردازد ، و براي هیچ یك اجازه نمیدهد که به مال مسلمان تجاوز صورت گیرد .

و در پهلوي اینکه شریعت اسلامي حفظ جان و مال را از ضروریات شمرده ، به حفظ آبرو و ناموس نیز تأکید نموده ، ودر صورت مخالفت بر مرتکبین آن جزا تعیین نموده و هوشدار داده است که مسلمانان باید آبرو و حیثیت یکدیگر را حفظ کنند ، دست تجاوز به اعراض دیگران دراز نه نمایند ، غیبت نکنند ، دسیسه نه چینند ، یکدیگر خودرا به لقب هاي نادرست نام نگذارند ، وهرآنچه که احساس مسلماني را جریحه دار سازد ، و مایه رنج و خاطر اوگردد برزبان نیاورند .

هم چنان آنحضرت – صلي الله علیه وسلم – در خطبه خویش در روز عرفه به اصل مساوات و برادري اسلامي در پیشگاه خداوند و قانون شرع ، اشاره نموده فرمودند « اي مردمان پروردگارشما یك است ، پدرشما یك است ، هرکدام شما فرزند آدم ، و آدم ازخاك آفریده شده است ، و معززترین شما نزد خداوند پرهیزگارترین شماست ، نیست عرب را برعجم ، و نه عجم را برعرب فضیلتي مگر به تقوي ..

آگاه باشید که من این پیام به شما رساندم ، خدایا توخود شاهد باش .

حاضرین گفتند : بلي خدا شاهد است که تو پیام خدا به ما رساندي ، آنگاه حضرت رسول اکرم – صلي الله علیه وسلم – فرمود : « باید حتماً آنهائیکه درین جا حضور یافته اند (این مطلب را) به آنهائیکه درینجا حضورنیافته اند ، برسانند .

و نیز رسول جلیل القدر در پایان خطبه ایشان که در حجة الوداع ایراد فرمودند توصیه به زنان را نادیده نگرفته و درمورد ایشان نیز نصیحت ارزشمندي براد نموده فرمودند : « اي مردم : هرآئینه زنان تان را برشما حقي بود ، و ازشما برایشان حقي است ، حق شما برایشان این خواهد بود که برحریم خویشتن هیچ یك را اجازه ندهند که قدم گذارد ، و هیچ یکي راکه شما خوش دار داخل شدن وي درخانه، خود نیستید اجازه ندهند ، مگر به اجازه خود تان ، و نباید به کار فاحشه دست زنند ، اگر چنین کردند خداوند براي شما حق داده است که آنها را در بند نگهدارید ، و زمینه را براي شان تنگ سازید ، و آنها را ازهم خوابي تان محروم دارید ، .. اگر آنها اطاعت شما کردند و

مدکه

حقپالونکی بیبیانی

ترجمه اوتلخیص « کشاف »

حضرت لیلی بنت ابي حثمه رضی الله تعالی عنها

حضرت ام عبد الله لیلی بنت ابی حثمه دقریشو دلویې اومشهورې قبیلې دبنو عدی له کورنۍ څخه وه دنسب لړۍ یې داده :

لیلی بنت ابی حثمه بن حذیفه بن غانم بن عامر بن عبدالله بن عبید بن عویج بن عدی بن کعب بن لوئی .

دهغې نکاح له حضرت عامر بن ربیعة العنزی سره وشوه ، هغه له بنې عنز بن وائل څخه ؤ اودبنوعدی حلیفان وو ـ دحضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه پلار خطاب هغه له ډیرې مینې په زړه دلې سره نیولی ؤ .

الله تعالی میره میرمن دواړوته ډیر صالح فطرت وربښلی ؤ ، دحق ددعوت دپیل کیدو په لومړیو وختونوکښې په اسلام مشرف شول او دمکې دمشرکانو دظلمونو مورد وگرځیدل . داهغه زمانه وه چې دحق له کاروان سره ملگرتیا په سرونو باندې لوبوکولو سره مترادفه خبره وه او دغمونو اومصیبتونو داور بڼې ته وردانگل وو . کله چې دخدای ددښمنانو ظلمونه دزغم له حده واوښتل او مسلمانانو په ازادۍ سره دخدای بندگي نشوه کولای نو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دبعثت په پنځم کال حبشې ته دهجرت کولو اجازه وکړه ـ دحبشې واکمن که څه هم عیسائی ؤ خودمسافرو او بیوسې خلکو حمایت به یې کاؤ او په مظلومانو باندې یې خواخوږي درلوده . حضرت لیلی بنت ابی حثمه او دهغې میړه عامر بن ربیعة العنزی هم هجرت ته چمتو شول . حضرت لیلی پراوښ باندې سپریدله چې حضرت عمر بن خطاب رضی الله تعالی عنه – چې په هغه وخت کښې لا دایمان دخزانې مالك شوی نه ؤ – راغی له حضرت لیلی رضی الله تعالی عنها څخه یې پوښتنه وکړه : ام عبدالله !

کوم لوری ته دتلو اراده لرې ؟ هغې ځواب ورکړ . موږ ستاسې د لاسه ډیر په تنگ شوي او ځوریدلي یو نوونو دیته حاضرشو ی یو چې خپل کور کلی او وطن پریږدو . دخدای ځمکه پراخه ده ، چیرته موچې وخت په آرامه تیریږی هلته به څو او ترڅو چې الله تعالی مسلمانانو ته دازادۍ لاره نه وی برابره کړی موږ به خپل وطن ته راستانه نشو .

په دې خبره باندې دحضرت عمر رضی الله تعالی عنه په زړه کښې نرمی پیداشوه ویې ویل : « صحبکم الله » (الله دې ستاسې مل اوملگری وي) . کله چې هغه لاړلو دحضرت لیلی رضی الله تعالی عنها میړه حضرت عامر بن ربیعة العنزی راغی حضرت لیلی هغه ته داماجرا واروله .

هغه کلك نفرت ښکاره کړ چې عمر (رضی الله تعالی عنه) خو داسلام اومسلمانانو پرضد ددښمنۍ سخت دریځ نیولی دی ، هغه څنگه دخواخوږی جذبه ښکاره کوی ، مسلمانانو خودهمده او دده په څیر نوروکسانو دظلمونو لامله وطن پریښودلو ته مجبور شوی دی . خوحضرت لیلی ورته وویل : « زما په لیدلو دعمر زړه ژیات وځوریده او لهجه یې ډیره نرمه وه کیدای شي الله تعالی ورته هدایت وکړی » حضرت عامر وویل : آیا ستا په زړه کښې راگرځي چې عمر به ایمان راوړی ؟ حضرت لیلی ځواب ورکړ : « هو »

دغه پیښه له لږ غوندې لفظی اختلاف سره ډیرو سیرت پوهانو بیان کړی ده ، الله تعالی دحضرت لیلی رضی الله تعالی عنها هغه هیله پوره کړه اوحضرت عمر(رض) دبعثت په شپږم کال په اسلام مشرف شو او دهغه په اسلام راوړلو سره په مسلمانانو کښې نوی روح وچلیده او اسلام قوت پیداکړ .

حضرت لیلی اوحضرت عامر دواړه حبشې ته مهاجرشول ، صرف دری میاشتې یې تیرې کړی دی چې آوازه خپره شوه چې دمکې مشرکانو یاټولو ایمان راوړیدی یاداچې دمسلمانانو له تعذیب او تنگولو نه یې لاس اخیستې دی او اوس مسلمانان په مکه کښې په بیغمۍ سره دخپل خدای بندگی اوعبادت کوی .

ددغه خبرې خپریدلو سره دحبشې مهاجرینو بیرته مکې ته دراستنیدو اراده وکړه . حضرت لیلی اوحضرت عامر رضی الله تعالی عنها هم دمکې په لوری دروان شول ، مکې معظمې ته چې نژدې شول ورته معلومه شوه چې هغه اوازه دروغ وه او پرمسلمانانو باندې دقریشو دمشرکانو ظلمونه له پخوانه لازیات شوی دی نو دهغه وخت له عرف او مقرراتو سره سم هرچا دمکې دیومشر څخه امان وغوښت اومکې ته داخل شول ، حضرت لیلی او حضرت عامر هم له عاص بن وائل څخه پناه وغوښتله . له دې پیښې نه وروسته پرمسلمانانو باندې دکفارو مظالم لازیات شول ترڅو چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم یوځل بیا دهجرت کولو هدایت ورکړ داویم هجرت دبعثت دشپږم کال په لومړیو وختونو کښې ؤ . تقریباً شل تنه مظلوم مسلمانان حبشې ته دهجرت له پاره تیارشول چې سیرت لیکونکو دهجرت په دغې قافله کښې دحضرت لیلی او حضرت عامر رضی الله عالی عنها نومونه په صراحت سره یاد کړی دی .

په حبشه کښې له څوکاله مسافرت تیرولو نه وروسته حضرت لیلی او حضرت عامر له یوشمیر نورو مهاجرینو سره په داسې وخت کښې مکې ته راستانه شول چې لا پیغمبر صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته هجرت نه ؤ کړی . کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې ته دهجرت کولو اجازه وکړه نو دعلامه ابن سعد دوینا له مخې حضرت لیلی رضی الله تعالی عنها ته مدینې ته دمهاجرو ښځو په لست کښې دلومړی نوب شرف په برخه شو .

ابن اثیر (رح) وائی حضرت لیلی رضی الله تعالی عنها له سابقون الاولون څخه وه او بیت المقدس ته دلمانځه کولو دسبقت شرف هم وریه برخه شوی دی .

په عبادت کښې اخلاص ، تقوی ، سخاوت ، صبر اولوړه حوصله دحضرت لیلی بنت ابی حثمه رضی الله تعالی عنها دژوند ځلانده بابونه دی . دهغې دوفات کال او دژوند نور تفصیلات دسیرت په کتابونوکښې نه دی بیان شوي .

(رضی الله تعالی عنها)

د هند انتخابات

او ددغه هیواد په سیاسي سیالیو کښي د مسلمانانو د بیرته پاتي توب عوامل

دهند دخپلواکۍ نه وروسته تاریخ ددې واقعیت تائیدوونکی دی چې ددغه هیواد مسلمانانو هیڅکله په سومي انتخاباتوکښي له یوې واحدې اوهماهنګې کړنلارې څخه پیروي نه ده کړې . هغوی دسیاسي ، سیمه ایزو ، موقعیتونو اوسیاسي اوفرهنګي پیلتوبونو په اساس له مختلفو ډلو سره په انتخاباتو کښې ګډون کړی او په پای کښې یې له یوه ځانګړي ګوند نه حمایت نه دی کړی .

هندي سیاستمداران په دې عقیده دي چې کولای شي دمسلمانانو له رایونه ده رایوبانکه په عنوان ګټه پورته کړي . شاني دغې قضیې ته په یوه جمله کښه سره ، توموري نګلاره واضح کولای شي .

دهند داستقلال په وخت کښې په متوسطه طبقه پوري مربوطو اکثرو مسلمانانو پاکستان ته مهاجرت وکړ اودمسلمانانو څخه هغه ولې چې دهند دجماعت علماء لخوا په هند کښې پاتې کیدلو ته تشویق او ترغیب شوي اکثراً له اجتماعي او تحصیلي نظره بیرته پاتي او له اقتصادي پلوه کمزوري دي .

په همدغه وخت کښې « راشتریاسویام سواک سینګ » چې ده آر . اس . اس « په نامه یادیږي او دهندوانو بنیاد ګر پوځي سازمان دی ، دیوو افراطي هندوسازمانونو په مرسته اسلامي ضد تبلیغات په لاره واچول او مسلمانان دخپل راتلونکي په هکله په تشویش کښې شول . په هغه وخت کښې د « هند دجماعت علماء » یوشمیر مشرانو لکه مولانا حفظ الرحمن او مولانا ابو الکلام چې ده کنګرې د ګوند مهري او مرستندویان وو مسلمانو ته د اطمینان ورکړ چې که چیرې دکنګرې دګوند له کاندیدانوڅخه یې ملاتړ وکړ له ټولنیز ، اقتصادي اومذهبي امنیت نه به برخمن شي

په لومړنیو انتخاباتو کښې دمسلمانانو ګډون او دانتخاباتو په نتیجه باندې دهغه ټاکونکې اغیزه دهندوسیاستمدارانو په مینځ کښې دمسلمانانودرایي دبانک « دپدیدې دپیداکیدوباعث شوه .

هغه وخت کښي مسلمانانو بل هیڅ بدیل اوعوض نه درلود اودکنګرې اوچپي ګوندونو په مقابل کښې یوازې فعال بدیل ډ . کمونیستي ګوندونو په همغه وخت کښې په شوروي پورې دخپلو خاصو شرایطو اوسیاسي - فرهنګي پیلتوبونو له مخې « روحانیون» او « مذهبي مشران » دخپلو حملو لومړني اهداف ټاکلي وو . له دې امله دهند مسلمانانو دخپلو مذهبي مشرانو دفتوا په اساس ، خپلې رایې هغوګوندونو ته ورکولې چې دغو مشرانو به ټاکل .

دغه کار ددې سبب شو چې مسلمانان دخپلو دغومشرانو څخه کورکورانه تقلید وکړي او همداراز ددغه طرز فکر په خورولو کښې چپي او افراطي هندوګوندونو مهم رول لوباوه .

په هرحال ، هندو ګوندونو دمینځ ته راتلو وضعې او له فرصت نه په ګټې اخیستلوسره ، دخپل موقعیت دټینګښت لپاره « دمسلمانانو درایي دبانک » پدیده دهندو ټولنې داکثریت لپاره دخطر په نامه یاده کړه . په دغه ارتباط یوشمیر هندو مؤرخینو دمسلمانانو پاچاهي او دهند په خاوره باندې دهغو واکمنې ته په اشارې ، او هم دهندوانو په تحریکولو سره ددغې ولې دموقعیت په ټینګولو کښې زیاته مرسته وکړه . له هغې جملې نه ددغه طرزفکر خورونکي « ای . سی . مجومدار » دی چې په خپل یوه اثر کښې لیکي : « مسلمانان یوه مذهبي او متحده ټولنه ده چې تل له هندوایزم سره په تضاد کښې ده . »

اما په عمل کښې مشخصه شوې ده چې دهند مسلمانان له یوه لازم وحدت اویوالی څخه برخمن نه دي . او په حقیقت کښې له عمده علتونو څخه یې یوهم ، دمسلمانانو کمزوري ، په مختلفوزماني شرایطو کښې دیوې مناسبي اوردې مودې کړنلارې ، اولنډې مودې پروګرام نه درلودل ، عدم اتفاق ، اتحاد اودرائي او کلمې وحدت دی .

د مسلمانانو طبقاتي تفکر اود هغه سیاسي آثار

دمسلمانانو او هندوانو ترمینځ دفرهنګي امتزاج او دیوبل په خواکښې ددې دوارو مذهبونو دپیروانو ځوکښ ژوند او دهندوئیزم او اسلام متقابل تاثیرونه ددې سبب شول چې ددواړو خواوویو شمیر دودونه او دستورونه او اعتقادي اصول هم یوبل ته منتقل شي . له هغې جملې نه کولای شو دمسلمانانو په ټولنه کښې ، په کاستي طبقاتي نظام عقیده چې له هندو ئیزم نه متاثره ده ، یاده کړو . په همدې ارتباط همدا اوس دهند دمسلمانانو په مینځ کښې هم څلور مشخصي طبقې موجودې دي چې عبارت دي له :

* « اشراف » دسید ، شیخ ، مغول ، پټان او ... ولې په برکښې نیسي .
* « اتره » دپاکیزه په معنی ، په دې طبقې کښې دهندوئیزم له اوچتې طبقې نه لکه راجپوت ، تیاګ ، جات او ... هغه ولې شاملې دي چې اسلام یې راوړی دی .
* « اذلاب » دخوارو اوبد اصلو په معنی ، چې کسب ګري طبقې لکه انصاري ، جولا ، درزي ، خیاط ، کسانی ، قصاب ، کونجرا ، سبزي پلورونکي ، میرازي ، موسقې پوه ، دروېزګر ، شیدې پلورنکي او غوالرونکي ... پکښې شاملېدي .
* « ارزال » دډیرو سپکو او ذلیلو په معنی ، دغه ډله ، دټولنیزوچارو په ډیرو سپکوکارونو لکه دکورونو مستخدمي او دبیت الخلاء پاکولو لګیا ده .

دهند مسلمانان لکه هندوان طبقاتي پیلتوبونو ته زیات ارزښت ورکوي . هغه ډله مسلمانان چې په اوچتو طبقو پوري اړه لري ، دټیټي طبقې افرادو ته په سپکه سترګه ګوري . هغوی دغه طبقاتي نظام حتی په ازدواج کښې هم رعایتوي بنا؛ دهند مسلمانان په سنتي ډول هڅه کوي خپله نورو طبقو سره له واده کولو نه ډډه وکړي ، اوحتی المقدور له خپل سیال سره واده وکړي .

همغه راز چې وویل شول ، دغه دود هغه مستقیمه اغیزه ده چې دهندوایزم له مذهب نه اخیستل شوې او له اسلامي اصل « ایمان » ، اودمسلمانانو په مینځ کښې داړیکو په ایجادولو کښې ددرجې ، او ارزښت ټاکلو دشاخص په توګه په تضاد کښې ده .

په هرحال لکه څنګه چې دټولنیزې طبقه بندي موضوع دهندوټولني دژوند په ټولو چارو کښې دنه بیلیدونکي جزء په توګه رامینځ ته شوې ده ، دهند دمسلمانانو طبقه بندي شوي ژوند هم په سنتي ډول له ټولو طبقاتي مسایلو سره برخورد کوي ، په همدې دلیل درایي دورکولو په وخت کښې هم دغه تفکر ټاکونکي رول لري .

د ۱۹۷۷ میلادي کال له انتخاباتو نه وروسته دهند دوخت صدراعظم « اندیرا ګاندي » دې نیتجې ته ورسیده چې له دې وروسته لکه تیر کلونه نشي کولای دمسلمانانو دجماعت په نسبت دکنګرې له ګوند نه امید ولري . نو په همدې خاطر یې دمسلمانانو دطبقاتي تکفر په نظر کښې نیولو سره دمسلماني ټولني دټیټو برخو درایو دجذبولو لپاره چې داسلامي ډلو په جوړولو کښې یې لوی لاس درلود ، نوي لارې چارې کشف کړي .

کله چې ګاندي په ۱۹۸۰ میلادي کال کښې دویمه پلا دقدرت په ګدۍ کښیناسته هڅه یې وکړه څو په اساسي قانون کښې دځینو اصلاحاتو په راوستلو سره دمسلمانانو دځانګړیو طبقو له پاره یوخاص موقعیت ایجاد کړي . ددغه سیاست غوره کول ډ چې په تدریجي توګه یې دمسلمانانو دخاصو طبقو درایو دبانک موضوع مطرح کړه . څو دمسلمانانو دمختلفو طبقو په مینځ کښې دیوه قوي او ځواکمن رهبرد نه موجودیت له امله دغه درایي بانګ هم دوخت په تیریدو او تدریج سره بې رونقه شو .

په واقعیت کښې باید وویل شي دهیواد په سطحه دمسلمانانو دمختلفو طبقو رأیه دملي اومذهبي رهبرانو ترکنټرول لاندې نه بلکې په عمده توګه دمحلي اوطبقاتي رهبرانو ترکنټرول لاندې ده .

دغه امر دوخت په تیریدو سره زیات عینیت موندلی دی . دغې پروسې ته په توجه سره ده چې په اوسني دوره ، یعني لسمه دوره انتخاباتو کښې ، دملي مذهبي رهبرانو لکه « مولانابخاري » له نظر اورأیو څخه استقبال نه کیږي اویه عوض کښې په سترګو کیږي چې دمسلمانانو محلي او طبقاتي مشرانو دیوه خاص ګوند په لوری دسیمه ایزو طرفدارانو ګروهنه له زیات بریالیتوب نه برخمنه ده .

بله مسئله چې دهند روشنفکران دهغه په القا، کښې هڅه کوي دابلود دي چې دهند اقلیت ته له هغې جملې نه مسلمانان باید له دین څخه دسیاست له جدایی نه حمایت وکړي . ددغې ډلې په عقیده پرته له دې نه « له دین سره دسیاست تلقین بالاخره له هندوئیزم سره به دسیاست په تلقین منجر شي او یوهندو اکثریت به دهیواد په سیاسي سرنوشت اوپه پای کښې په اقلیتي ډلو حاکم شي .

بنائي په همدې دلیل اسلامي ګوندونو نه دي کړای شوي دهند په سیاسي ډګرکښې دپام وړبریالیتوب ترلاسه کړي . دمثال په توګه دهند « مسلم لیګ » ګوند دخپل حمایت په تاریخ کښې یواځې په جنوبي ایالت « کرالا » کښې نفوذ درلودلای دی .

څو په دغو سیاسي لوبوکښې دمسلمانانو ډیر غټ مسایل له پامه غورځول کیږي . اقتصادي بیوزلي ، فرهنګي بیرته پاتي توب ، بیسوادي- چې دهند له خپلواکي نه وروسته ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو ده- له هغو مسایلو څخه وو چې دهند مسلمانه ټولنه یې تل ځوروله او ددغه هیواد په سیاسي - او اجتماعي ډګر کښې یې دهغوی په نه موجودیت کښې مستقیمه اغیزه درلودلې ده . دمثال په ډول دهند له خپلواکۍ نه د ۴۲ کلونو په تیریدو سره اوس یوازې په سلوکې ۳۷ مسلمانان لیك او لوست کولای شي . په عین حال کښې دغه ټکي چې دمسلمانانو ټیټې طبقې دښوونې او روزنې له سمه نظام او همداراز دپام وړوزنې امکاناتو څخه محرومې دي ، داسې یوټکی نه دی چې له پامه وغورځول شي . اما لیدل کیږي چې دمسلمانانو دمذهبي مشرانو له نظره چې سیاسي دستورالعملونه صادروي ، دغه موضوعات ډیر لږ داعراب ځای لري اواکثراً دهغه په وړاندې سکوت اختیاروي .

د هند مسلمانان او جاناتادال ګوند

یو له هغو علتونو څخه ددې باعث شو څو ، ده وي پي سینګ « په مشري دجاناتادال ګوند دهند بیرته پاتې مسلمانان هم دهغو کسانو په کتارکښې ودروي چې دزده کړې او دولتي دندو په سهمیه کښې شامل وو ، دهغو درایو له خپلولو نه علاوه دمسلمانانو له ترخې او دردوونکې وضعې نه دهغه پرځای برداشت دبهاراواترا پردیش په ولایتونوکښې چې د « وي پي سنګ » له پاره درأیو خپلولو لوی او غټ امیدونه ځګل کیږي دهغو له اقتصادي او اجتماعي نظره بیرته پاتي مسلمانانو ټاټوبي دی . ځینې مسلمان صاحب نظران په دې عقیده دي چې دجاناتادال دامنیتي چترلاندې پناه وړل ددغه ګوند دانتخاباتي وعدو په اساس یو داسې کاردی چې د وي پي سنګ په لوری دمحرومو طبقو دزیاترو مسلمانانو دګروهنې سبب به شي .

اما په اوسني وخت کښې دمسلمانانو درایو دلاس ته راوړلو هلې ځلې یوالې دجاناتا په ګوند پوري نه محدودیږي بلکې ددغو هلو ځلو لړ دکنګرې له ګوند نه هاخوا هم خوره او سیمه ایزو ګوندونو ته کاږل شوي ده . په دغه مسیر کښې هرګوند دمسلمانانو له پاره ډول ډول وعدې ورکوي اوځانګړیو سیاستونو ته لاس اچوي .

وي پي سنګ تل هڅه کړې څو دمسلمانانو رایې له لاسه ورنکړي او اعلان یې کړی چې له « اصولونه دنه عدول » په خاطر دبهار تیا جاناتا افراطي ګوند سره مصالحې ته حاضر نه دی اودهغه داثبات له پاره دخپل حکومت « قرباني کولو ترحده پورې وړاندې ولاړ . نوموړي په یوه بل اقدام کښې دمسلمانانو دنظر دجلبولو په ترڅ کښې دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم دمیلاد ورځ عمومي رخصتي اعلان کړه .

په دې پروسه کښې ، دجاناتادال ګوند دمسلمانانو دامنیت دتأمین په عنوان په سیکولاریزم باندې دټینګارله لارې . له نورو نه زیات بریالي په نظر رسیږي . په ایودیا کښې دبابري جومات دورانولو لپاره دافراطي هندوانو دلسوونکو حرکتونو په وړاندې د وي پي سنګ او دبهار او اترا پردیش داخلي وزیرانو مقاومت چې بالآخره دملي جبهې دحکومت په نسکوریدو باندې منجر شو ، دجاناتادال ګوند ته ځانګړی اعتبار او رسوخ وربه برخه کړ او په همدې اساس ډ چې دملي جبهې دحکومت په چوکاټ کښې ، « دامنیت احساس » دهند مسلمانانو ته داپیغام ورکړ چې کولای شي په دغه ګوند باندې دنورو ګوندونو او ډلو په نسبت زیات اعتماد او باور وکړي له بلې خوا ددوي پي سنګ دملي جبهې حکومت په دوران کښې نور تحولات هم مینځ ته راغلل چې دهند مسلماني ټولني بدبینه برخه یې دجاناتادال ګوند په نسبت نوره هم زیاته بدبینه کړه . په مرکزي حکومت کښې دوزیر په عنوان باندې دمسلمانو شخصیتونو - چې دمسلمانانو په مینځ کښې د لږ اجتماعي اعتبار او مقبولیت خښتان دي - مقررول(سره له هغه چې وي پي سنګ ددغو خلکو په لوی کولو کښې له امام بخاري سره ژمنې او قراردادونه کړي و) دژمنو په سرته رسولو کښې یې دجاناتا دال دګوند څیره مخدوشه کړه .

د وي پي سنګ دهغه وخت په حکومت کښې دولت دهوائي حمل اونقل وزیران « مفتي محمد سعید » او « عارف محمد خان » دهنددمسلمانانو په [illegible] کښې له ډیرو منفورو څیرو څخه دي . [illegible] دغو دوتنو [illegible] مسلمانانو اوځینې [illegible] رهبرانو له هغې جملې نه ددهلي دجامع جومات امام ، امام بخاري داعتراضونو څپې راپورته کړې څو وي پي سنګ دخپل حکومت دژوند تر وروستي ورځې هغوی په مرکز کښې وساتل .

په دې ترځ کښې مفتي محمد سعید ډیرې زیاتې منفي اغیزې په ځای پریښودې ، هغه دخپل وزارت په دوران کښې په مستقیمه توګه دجامو اوکشمیر دایالت په امورو کښې چې لکه څیرن ټپ چې هروخت به یې سرخلاصیده دمرکز ژوند به یې له خطر سره مخامخ کاوه دخالت وکړ . دکشمیر ناو ته دهغو پوځ دعسکرو اوملیشه ځواکونو لیږل دګوویو ، دغیر نظامیانو دپراخه عام قتل او دکشمیري مسلمانو مبارزینو دتکولو سبب شو.

له دې نه ورهاخوا نوموړی چې په ظاهره [illegible] دی په ډیره آساني سره دهندوانو دافراطي ګوند « بهارتیا جاناتا » چې دوی پي سنګ دملي جبهې ډیر غټ اومهم متحد ډ غوښتنو اوسیاست ته غاړه کیښوده اودهغه ولایت دوالي جاګموهان په وسیله چې دجاناتادال دګوند نخوابی ملاتړ کیده او دولایت داخلي وزیر « فاروق عبد الله » په استعفی باندې منجر شو ، دکشمیر دمسلمانانو په مینځ کښې یې د بې اتفاقي او بې باوري تخم وشینده او دهرډول حل او مصالحې لاره یې وتړله .

دغومسئلو په عمومي توګه دهغه څیره دیو اسلامي ضد شخصیت په توګه چې په عین حال کښې د افراطي هندوانو طرفداردی معرفي کړه او دجاناتا دال په ګوندیې ټیغه ضربه وارده کړه او ددغه ګوند سیکولاریزم او له لومړنیو حقوقو څخه دطرفداري کړنلاره یې ترسوال لاندې راوسته ځینې دنظر خښتنان په دې عقیده دي چې د وي پي سنګ دحکومت نه وروسته دبابري جومات ژوند نه ددفاع په خاطر دمسلمانانو اوهندوانو ترمینځ چې کومې ښتنې او پراخه قومي ناکرارۍ پیښې شوې او دهغو په ترځ کښې په سل هاوو تنه ومړل شول ، داسې یوه پدیده ده چې « مستقیماً » یې د وي پي سنګ دحکوم دغلط او ضعیفو سیاستونو څخه سرچینه اخیستې ده .

له بلې خوا ددغې انګیرنو په خورولـــــو کښې دکنګرې دګوند تبلیغاتي څپو هم خپلې منفي اغیزې پرځای پریښودې .

په یوې عمومي سروې سره کولای شو انتظار ولرو چې دوي پي سنګ جاناتادال ګوند به دنورو ګوندونو په نسبت دمسلمانانو درایو په جذبولو کښې یو څه بریالي وي . ددې موضوع زیاتره علت هغه دی چې نوموړي دملي جبهې دګوند په مشرۍ دصدراعظمۍ په دوران کښې په داسې ډول عمل وکړ چې داقلیتونو له هغې جملې نه دمسلمانانو دامنیت اوحقوقو دساتنې په ارتباط دهغه منطقي څیره ډیره لږه بدرنګه شوه .

نوربیا

لیك او ژباړه : محمد نصیر « مدثر »

اقوال زرین

* درچهار اطراف تان ګل بکارید ، خارمکارید که فردا درپاي تان فرو خواهد رفت
* اشخاص خوش زبان هیچ دشمن نداشته همیشه درمیان دوستان خود قراردارد .
* ازهمه، افضل ترین عبادت اینست که مردم فرایض را ادا نموده وازمنهیات بازآیند ونیت خودرا باخدا درست کند .
* صبر بردوګونه است ، یکي هنګام فرار رسیدن مصیبت ودیګري برترك معصیت ونوع ثاني افضل تر ومدار ایمان است .
* خداوند برآنکسي رحم نمیکند که اوبر دیګران رحم نمیکند .
* اګراین دو چیز درمیان شما باشد تاآن موقع بخیر خواهید ماند . یکي انصاف هنګام قضاء ودوم انصاف هنګام تقسیم .
* زلزله درزمین ازکثرت زنا وقحط ازجور حکام پدید میاید .
* ازهمه، حلیم وبردبارترکسي است که ازجور ظالم در ګذرکند .
* اګرمیخواهید زندګي کامراني بکند را نبد، باید بعد ازوفات پدربدوستانش حسن سلوك اختیارکنید .
* هرکسیکه به دنیا محبت بیشتر دارد اګردرباره دین سخن میګفت براو اعتماد نکنید .
* جاهل ترکسي است که آخرت خودرا بدنیا بفروشند .
* بزرګترین بربادي این است که به کسي عمر دراز عنایت ګردد امابراي سفر آخرت هیچ نوع امادګي نداشته باشد .
* قبر باعث راحت کساني است که دنیا براي شان قید خانه است .
* اګردلهاي تان پاك باشد هرګز ازتلاوت قرآن واستماع ان سیر نخواهیدشد .

ګرداورنده ، ظاهر « ستا نیـزي »

ناله غم

فضل الحق «نوید»

اي وطن تاکي من ازآغوش دوستانم جدا ؟ — اززمین وآسمان ، از کوهي پـامیرم جدا
اي وطن سیلاب خون برخانه ام سنګرګرفت — همچوګرګ شبخون زده ، ازبدخشانم جدا
اي وطن آید بګوشم نـاله هاي جان ګداز — سنګ وچوب میهنم ، ازطفل افغانم جدا
اي وطن ازریزش بم هـاي دشمن سوختم — کوه ودره ، درګیرفت وکبك وشاهینم جدا
اي وطن بـرسنګـر داغ وفـارفتم صدام — شسته شدبرخون پاکم ، دشت ودامانم جدا
اي وطن ازآبشارانت مـرامحروم مساز — درمیان ریګ سوزان داغ هجرانم جدا
اي وطن ازګلشت فریـاد غم آیـد کنون — قطره هاي اشك من ریزد زورخسارم جدا
اي وطن ازهندوکش وتـورغـرآیـد نـدا — ازلب دریاي آمو مدتـي هستم جدا
اي وطن برخفتـه ګان دره، پغمان نـګـر — کشته ګان راه حق بین ، نـوجوانانم جدا
اي وطن ازقـندهار وبادغیس وفـراه تو — فـاریاب وکنـدزوازسمنګانـم جدا
اي وطن برلوګر وهلمند وجوزجانت شوم — زابل ونیمروزهم از شهرمیدانم جدا
اي وطن پروان وکاپیسا زخون نقش ونګار — دوستان رفتند ومن ازکاروان ماندم جدا
اي وطن ازګلبهـارودامـن پنجشیرتو — جسم وروح من شده ازکابل جانم جدا
اي وطن تخاروبغلانت بیاد آمـد مرا — درمیان خارستند ، ازګلستانم جدا

میرسد هردم «نـوید» ازسنګـر پـرسوزعشق
ازمیـان کـوه وصـحرا ، شیرمـردانـم جـدا

سخت ظلمونه یاد و م

اخترشو بـیادغـم ،هغـه وختونه یاد وم

شانداره خپلواکي مي لکه غـرونه یـاد و م
دوستي کي په رڼوسترګو یرغل دروس کافـر
په غټه ناروائي سخت ظلـمونه یـاد و م
پـه زور دبیاریـو اوټانکونـو لـر اوبـر
په بل مخ راتـکور کلي کـورونه یـاد و م
چي تللي په اسلام سوچه غـازیان اوشهیدان
ترخاورولاندي پټ ئي انـدامـونه یـاد و م
دغم کور ناستي بوري اوکونډي په حیرت
په زړه ئي دغمـوسـوي داغـونه یـاد و م
بې وزله اوسپیره مخ وچي شـوندي پښیمان
هري خواته ئي بربند او تـور سرونه یاد و م
زندان کي چي قتلیږي په شکنجو برقي ونلو
څپ څپ ئي دځان غوښي او هډونه یـاد و م
نـاتـرسـه غـداري تـه نن سپاه هرغدار
کاره ئي بې رحمي تـه اور بـوزونه یاد و م
غمګینه توره چاوکړه اوځوك ئي خوري منصب
په حیف زه خپل قـلم قـلم شعرونه یاد و م

بیت العتیــق . . .

اونه کوم داسې سیمینارډی چې یوازې دنیوی مصالح ورپورې تړلي دي بلکې « قدم په قدم ایماني ، عقیدوي او اخلاقي درسونه په کښې پرانه دي . په لومړي ځل چې حاجي احرام تړي د دوه ټوټې ناګنډل شوي لباس په اغوستلو په خپل ځان کښې عملي تحول راولي ، له مادي زیب زینت نه بیګانه شي ، د فخر اوویاړ جامه وغورځوي ، سر اوپښې یې لوڅې شي اوداحرام ترپرانستلو پورې له ځینو شیانو څخه پرهیزشي ، د خدای دا طاعت زمزمه شروع کړي : لبیك اللهم لبیك ، لبیك لاشریك لك لبیك ، ان الحمد و النعمة لك والملك لاشریك لك ، دخپل پروردګار په وړاندې د اطاعت ، بندګۍ اووفادارۍ اعلان ، دهغه په توحید ، مالکیت اوخالقیت باندې اعتراف . بلد الامین یعني مکې معظمې ته په داخلیدو د هغې ټول تاریخ په تیره بیا د محمدي بعثت ددیارلس کلنې مودې هغه پړاوونه یې د تصور سترګو ته مخامخ شي چې سرورکائنات صلی الله علیه وسلم اودهغه سرښندونکو ملګرو د اسلام ددعوت په لاره کښې د رنګارنګ سختیو اوکړاوونو په ځپوکښې په پوره صبر ، زغم اواستقامت سره ووهل ، د بیت الله په طواف ، د صفا اومروه په سعي ، دعرفات په وقوف ، د مزدلفې په شپې تیرولو ، د منی په استوګنه د جمراتو په ویشتلو اود شکرانې په توګه د قربانۍ په کولو ټولومناسکو سره خپل روح ته غذا برابروي . ددې سفر په دوران کښې د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم زیارت ته ورتګ که له یوې خوا روحاني فیض اوبرکت ورښیي نوله بلې خوایي د هجرت اوجهاد ټول تاریخ د تصور سترګوته مخامخ کیږي اودا درس ورڅخه اخلي چې په ریښتیا سره هم د اسلام اومسلم امت د عظمت رمز په جهاد کښې پروت دی اودا جهاد دی چې مسلمان ته عزت ، شرف ، حریت او سیادت په نصیب کوي ، مسلمانان که جهاد ته شاکړي نو د نورو په لاس کښې به د غلامۍ اوذلت ژوند تیروي اوچیرته چې اوروي هغه به د مسلمان په کوروي

دهسکي لنګي ول

مـجاهـــده رابیـــدارشـــه
هنـــګامـــه واوره دحـــل
غـــافـــل مـــه اوســه هیڅکله
چي زمــان دي تـــن دچــل
کـــافـــران ددنیـــا تـــاتــه
هـــریـــو پـــت دي لـــکه غل
ثمــره ددي جهـــاد ســتا
پـــام کـــوه نـــه شـي غـــوبل
همــت ورنـــکري لـــه لاســه
تـــل دي پـــاك الله دي مـــل
زه غمـــګــین یـــم چي دي نه شي
وران دهسکي لـــنګـــي ول

حج بزرګترین

ازین کار خود جلوګیري نمودند ، برشمات که نان و لباس شان را به طریقه نیکو بدهید و به آنها ګناره کنید زیرا ایشان در بند شما اند ، و هیچ چیز را براي خرد مالك نیستند ، شما آنها را به امانت خدا ګرفته اید ، شرمګاه شان را به کلمه، الله براي خود حلال ګردانیدید ، پس در باره، زنان ازخداوند بترسید ... و به ایشان توصیه نیك کنید ، آګاه باشید آیا براي تان (پیام خدا) رساندم؟ خدایا تو خود ګواه باش .

قطعنامهء مخابروي قوماندانان جبهات بدخشان

بسم الله الرحمن الرحيم

ازانجائیکه کفار شرق وغرب ، سقوط رژیم مزدور ودست نشانده، روس درافغانستان را درین شرایط نازك وسرنوشت ساز حتمي دیده اند ، وبه حقیقت دریافته اند که باگذشت هرروز لانه هاي آنان بدست پرتوان مجاهدین اسلام یکي بعد دیگر درهم مي پاشد ، لذا همه، کفارشرق وغرب - باوجود اختلافات ذات البیني خویش - دست وحدت ویکپارچگي بهم داده اند تاجلو پیروزي حتمي این جهاد حیات بخش را بگیرند ، وبه عوض آن اشخاص جنایت کار وقاتلین بیش ازیك ملیون مسلمان را برسرقدرت نگهدارند ، با درنظرداشت این امر جبهات جهادي ولایت بدخشان با ایمان کامل به خداوند ، وتوکل برذات کبریائي الله جل جلاله به جهاد اسلامي خویش ادامه داده ، وتانابودي کامل حکومت کفروالحاد در کابل ، واقامه، حکومت عدل الهي ، بجاي آن ، سلاح برزمین نگذاشته ، وهرنوع سازش هاي بین المللي رادرحل قضیه، افغانستان ، طرح وپلان سنجیده، شده حکومت دست نشانده، کابل وسیاست مداران کرملین دانسته ، وبه هیچ وجه به بیگانگان اجازه نخواهند داد تابرسراین ملت مظلوم به معامله بنشینند .

وهم چنان به آنعده، که خودرا درصف مجاهدین جازده اند ، وبه میل وهواي حکومت نجیب وباداران غربي وشرقي آن ، حرف میزنند ، هوشدارمیدهیم که حیثیت واعتبار جهادي مارا درپاي دشمنان اسلام نثارنکنند ، واین لکه ننگ وبدنامي رادرچهره، تاریخ درخشان ماثبت نسازند ، ویقین کامل داشته باشند که مسئولیت این خیانت عظیم را خود به دوش خواهند داشت .

ازطرف قوماندانان جهادي ولایت بدخشان

د لوګر په ولایت کښې د ملحد رژیم ١٦ تنه پلویان ووژل شول

دمیدیا په رارسیدلو خبرونوکښي ویل شویدي چي دلوګر ولایت اتلو مجاهدینو دجون په ١٣ نیټه دکابل ښاریه جنوبي کښي دموسهي لوګر په سمیه کښي دملیشه ؤ په یوه پوسته باندي ناڅاپي حمله وکړه چي په نتیجه کښي دکمونیست رژیم ١٦ تنه عسکر اومنصبداران په جګړه کښي وژل شوي او پوسته ئي دمینځه تللي ده . پدي نښته کښي مجاهدینو ته ځاني تلفات ندي رسیدلي .

(میدیا)

د پنجاب په ایالت کښې وسله والو سکانو لږترلږه ١٠٠ تنه ووژل

بي بي سي دجوزا ٢٦

دهند څخه په رارسیدلوخبرونوکښي ویل شویدي چي په اوسنیو انتخاباتوکښي درآیو دشمیرلو کار پیل شوي او داسي ښکاري چي په هند کښي به بیایو داسي حکومت چي په پارلمان کښي به زیات اکثریت ولري مینځ ته راشي .

دهند دپولیسو دوینا له مخي دپنجاب ایالت په شمالي برخه کښي وسلوالو کسانو مسافر وړونکي دوه اورګاړي ترخپلي حملي لاندي نیولي او لږترلږه (١٠٠) یې تنه وژلي دي . داحمله په پنجاب کښي دجنجالي سکانو یوې ډلي، ولوجانانه ته نژدي دیادوال څخه دباندي یو اورګاړي ودروه او بي له ځنډه یو ښتني یې تر ډزو لاندي راوست دخبر له مخي (٦٠) تنه یې ووژل او یوزیات شمیر نوریي سخت ټپیان کړل . همدارنګه یویل اورګاړي یې دتیلاي رایپور سره نژدي ترخپلي حملي لاندي راوست او یوزیات شمیر خلك یې پکښي داورلبه کړل

ویل کیږي چي دهند په پنجاب کښي سکان دیو خپلواك او ازاد وطن غوښتونکي دي .

خبرزیاتوي په هند کښي درآیوشمیرلو کار پیل شویدي او داسي ښکاري چي په هند کښي به بیا یوداسي حکومت رامینځته شي چي په پارلمان کښي به زیات اکثریت ولري .

ویل کیږي چي دانتخاباتو په وروستي ورځ لږترلږه (٢٠) وژل شویدي .

دریك حمله، مجاهدین در ولایت وردك درغرب کابل (١٣) ملیشه، رژیم اسیر (٥) تانك محاربوي و ٣ موتر نظامي فعال به غنیمت گرفته شد

یك منبع مجاهدین خبرداده است ، مجاهدین طي عملیات برچند پوسته، رژیم درمنطقه، ابراهیم خیل ، ولایت وردك ، بروز (١٠) جون (١٣) تن ازملیشه هاي رژیم رااسیر (٥) عراده تانك محاربوي فعال و٣ عراده موتر نظامي دشمن را به غنیمت گرفته اند .

درهمین حال خبررسیده است که کاروان اکمالاتي رژیم که قصد دارد ازکابل بمنظور انتقال اکمالات به ولایت غزني برود براثر موضع گیري مجاهدین متوقف وشاهراه مذکور درحال حاضر بروي ترافیك مسدود گردیده است .

خبر مي افزاید به اثر بمباران وحشیانه، طیارات رژیم برقرا، وقصبات ولایت وردك ، بسیاري ازخانواده ها مجبور به ترك خانه وکاشانه وپناهندگي به مناطق آزاد شده اند .

(میدیا)

عساکر امنیتي متحدین از شمال عراق خارج گردیدند

عساکر امنیتي متحدین ازشمال عراق خارج گردیده ووظیفه حفاظت ساکنین کرد این منطقه را به ملیشاي محلي ویك دسته کوچك امنیتي ملل متحد که با اسلحه خفیف مسلح میباشند گذاشته اند . پنجاو دو عسکر متحدین روز شنبه بعد ازاعاده، مجدد خدمات اساسي ازشهر خارج شده اند روز جمعه مظاهره چیان کردي ازعساکر متحدین خواهش نموده اند تا درشهر باقي بمانند . اکثر آنها ازبازگشت قواي امنیتي عراقي میترسند یك عده ازکردها به کمپ پناه گزینان درنزدیکي سرحد ترکیه عودت میکنند اما گزارش ها حاکیست روزانه چندین صد عسکر متحدین مناطق پناه گزینان راترك میگویند

زلزله یکبار دیگر جمهوریت گرجستان را تکان داد

مسکو ٢٦ جوزا

درجمهوریت گرجستان روسیه زلزله، شدیدي رخ داده است گزارش هاي ابتدائي حاکیست که درزلزله روز شنبه ٧ نفر هلاك وحد اقل پنجاه تن دیگر زخمي شده اند وچندین قریه تخریب وباشدیداً خساره مند گردیده است . به اساس گزارش تلوزیون مسکو مرکز این زلزله درشمال غرب گرجستان که به فاصله (١٣٠) کیلومتر ازتفلیس پایتخت آن جمهوریت موقعیت داشت . شدت زلزله ومرکز آن ٦/٣ فیصدبه معیار ریکتر تخمین شده است . دوماه قبل زلزله، دیگري که هفت درجه شدت داشت (١٥٠) نفر درهمین منطقه هلاك ساخت

د روسیې د ...

دداغستان ماموریتو ویلي دي څنګه چي دغه جمهوریت د منابعو له درکه غني نه دي نوله دي کبله زیاتي پیسي په اختیارکښي نلري چي زیات شمیر خلك حج ته ولیږي . د پنجشنبي په ورځ په داغستان کښي نژدي (٢٥٠٠) تنو یوه مظاهره کړي وه اوغوښتل یې چي په مخاچاکلاکښي د حکومت په ودانۍ باندي برید وکړي خراپور زیاتوي چي په دغه مظاهره کوونکو باندي د امنیتي ځواکونو لخوا د اوبو شیندونکو موټرو په ذریعه اوبه وپاشل شوي او هغوي یې خواره واره کړل همدارنګه ویل کیږي چي په دغه مظاهره چیانو باندي ډزي هم شویدي چي دهغو په اثر یوتن خپل ژوند له لاسه ورکړیدي .

همدارنګه یوبل رپوټ ددي خبري د منلونه انکار کړیدي .

د تاس آژانس په خپل رپوټ کښي ویلي دي چي له دي ګډوډي څخه وروسته حالات ښه شول د حکومت او مظاهره کوونکو ترمینځ خبري اترې پیل شوي او د حج ددي ستونزونه داسي حُل‌گندیږي چي له هغوي نه به د روسیې د فدراسیون اود روسیې د مرکزي حکومت لپاره څه ډول مشکلات راولاړشي . د روسیې مسلمانان ښائي دا خبره راپورته کړي چي له کلونو راهیسي بهودیانوته اجازه ورکول کیږي چي بهرنه پناه یوسي نو اوس به د روسیې د حکومت لپاره ګرانه وي چي داغستاني مسلمانانو ته پدي هکله سهم ورکړي .

د پروفیسور سیاف لخوا ...

بدل اودا ارزوګانې به له خاوروسره برابرې کړي .

داګومه فارموله چي دروس اوامریکا په مشوره د ملل متحد ترسیوري لاندي راوړاندې شوې ده لاندینی خطري ورسره ملګري دي :

١- دغه جهاد چي دمسلمان امت د پت ، عزت او ازادۍ یوه ستره نښانه ده او پدې منطقه کې د مسلمانانو د قوت رمز یکې پروت دی ختش کوي .

٢- د یوه اسلامي نظام د مخ نیوی مقصد یکې پروت دی کوم چي مونږ افغان ولس د هغې د پاره قرباني ورکړي اوروس او امریکا یې دښمنان دي .

٣- په افغانستان کې د پردو لپاره د یو ایجنټ حکومت د قایمیدو زمینه برابروي چي دا به له افغان ولس سره جفا او د پاکستان د اینده د پاره داسلام دښمنانو د سبوتاژ اودښمنیو یو سنګروی .

٤- هغه مجاهد او مهاجر قوم چي ستاسو د دوستي،ارزو او رغبت ورسره دی او غواړي چي دوروی مستقبل درسره ولري هغه به څپه درڅخه روانیږي او پدي ترتیب سره به د امریکې او روس مقصد ترسره شوی وي ، ځکه هغوي ددغو دوقومونو د دوستي استمرار اودوام په منطقه کې د خپلو شومو مقاصدو او استعماری منافعو په وړاندې یولوی ګواښ او خطر بولي .

٥- په افغانستان کې به سوله نه راځي بلکه یوځل بیابه په هرکلي او هرکوڅي جنګونه شروع کیږي ، یو تعداد مسلمانان به هلته له منځه ځي او باقي کسان به بیرته پاکستان ته رامهاجرکیږي ، اوددي په عوض چي د موجوده مهاجرو بوج ستاسو له اوږوڅخه اکم شي دابه دوه واره نورهم زیاتیږي .

٦- د هندوانو سابقه او قسم خوړلي دوستان به ددې فارمولې له لیارې یوځل بیا په افغانستان کې حاکمان کیږي اود خاد او را- مشترك پلانونه به د عمل جامه اغوندي .

٧- ددغو دیارلس کالو تکلیف او زحمت څخه وروسته چي د مجاهدینو سره مو لیستلي دي که تاسو دا طرحه تائید کړئ ددي عظیم جهاد په ضایع کیدوکي به په تاریخي مسئولیت کې شریك کیږي

باورمووشه چي ددې طرحې تائید ستاسو لپاره د بدنامي،یوتور داغ دی چي ستاسو د پاره مونه لوریږي ، نوتاسوته بالخصوص د پاکستان حکومت ته زمونږ دوروری مشوره داده چي :

ددی مرداري او خطرناکي طرحي مقابله وکړئ اود خپلو مجاهدو وروڼو قربانیونه په درنه سترګه وګورئ او تراړخه یې ودریږئ ، اوکه بین الاقوامی فشارزیات وي اودامو په وس کې نه وي چي ددي توطئي مقابله وکړئ نو اقلاً دا وکړئ چي اجازه مه ورکوئ چي دا مصیبت د پاکستان له لیارې افغانستان ته داخل شي ، پریږدئ چي د بلې لارې څخه راشي مونږ به یې انشاء الله مقابله وکړو ، اوزمونږ اوستاسو ورورې به چي ددښمنانو په سترګوکې داغزي حیثیت لري دوامداره او پایداره پاتي وي .

لویله داچي تاسو باید د ځوشتو خرڅ شووافغانانو چي ، هسي شکلاً د مجاهدینو په شمیرکې دي ، په موافقه باندې خپل موقف او پالیسی قایمه نکړئ بلکه د هغو مجاهدینو نظرته د احترام په سترګه وګورئ کوم چي د جهاد ریښتني بچیان دي اود جنګ درول اودوام د الله تعالی په توفیق سره دهغوي د فیصلي پودې اړه لري - اودهغوي د ا پریکړه ده چې د ژوند ترپایه به د غیر اسلامی حلونو مقابله کوي

اویه پای کې دا باید ووایو چې مونږ د الله تعالی په فضل د نصرت او کامیابۍ د دروازو ترشاولاړیو ، لږڅه نور صبر اوحوصلې ته ضرورت دی - پنځه نوی پیازه مود افغان قام د جهاد د ملاتړ په لارکې خوړلي ددې پاتې پنځو پیازو خوړونه هم ځان ټینګ کړئ - انشاء الله چې خدای به په دنیا او آخرت کې یوه لویه نیک نامي دریه برخه کړي .

درخشونت هاي انتخاباتي هند بیش ازسه صد نفر کشته شد

دهلي جدید - ٢٧ جوزا

انتخابات ایالتي هند که ازخونین ترین انتخابات در تاریخ هند بود روز یکشنبي برگزارگردید که در خشو نت هاي مربوط به آن بیش از ٣٠٠ نفر به قتل رسیدند .

به اساس گزارش آژانس هاي بین المللي تاتحریراین گزارش حزب کانگرس بزرگترین حزب در پارلمان خواهد بود . براي معلومات بیشتر اینك گزارش صداي امریکا تقدیم میگردد :

درحالیکه شمارش آرا، شام یکشنبي در سراسر هند ادامه داشت چنان معلوم میشود که حزب کانگرس بزرگترین حزب در پارلمان خواهد بود ولي براي تشکیل حکومت آینده هند باید ازاحزاب دیگر کمك بجوید . درپیش بیني هاي شام یکشنبي تلویزیون دولتي گفته شده که حزب کانگرس تقریباً ٢١ کرسي را بدست خواهد آورد و همراه با متحدین انتخاباتي چنین پیش بیني میشود که حزب کانگرس در حدود ٢٢٥ کرسي را در پارلمان کنترول خواهد کرد که ٣٠ کرسي از اکثریت قاطع کمتراست همچو نتیجه بهبود قابل ملاحظه اي را نسبت به نتایج کارحزب کانگرس در انتخابات سال ١٩٨٩ نشام میدهد که درآن ١٩٨ کرسي را حاصل کرد. پیش بیني ها همچنین نشان میدهدکه در بخت وطالع سیاسي حزب مردم هند متعلق به بنیاد گرایان هند و نیز بهبودي رونما شده است . و انتظارمیرود بین ١١٥ و ١٢٠ کرسي را بدست آورد البته حزب مردم هند آنطوریکه امیدوار بود نتیجه بدست نیاورد ولي نسبت به پارلمان گذشته که درآن ٨٥ کرسي داشت به مراتب بهتراست .انتظارمیرود کرسي هاي باقي مانده پارلمان به حزب جاناتادال جبهه ملي متمایل به چپ وسایر احزاب کوچك تعلق گیرد .

انتخابات عمومي درهند درسه مرحله برگزارگردید دور دوم و سوم رایه گیري بخاطر قتل راجیو گاندي به تاریخ ٢١ ماه براي مدت تقریباً یکماه به تعویق افتاد صرف ٥٣ فیصد اشخاص واجد شرایط رأي گیري رأي دادند و این در تاریخ انتخابات هند کمترین تعداد رأي دهندگان و همچنین خونین ترین انتخابت در تاریخ هند بود بیش از ٣٠٠ نفر در خشونت هاي مربوطه به انتخابات کشته شدند در حدود ١٣٦ مسافر یك قطار آهن روز شنبي در پنجاب قتل عام شدند . قراراست درآنجا روز شنبه آینده انتخابات جداگانه برگزارکردد . مقامات میگویند این حمله کوششي بود ازجانب سکهاي تندرو تاجبراً انتخابات را متوقف سازند . طبق نظر اکثر ناظرین سیاسي مبارزه انتخابات بعد ازمرگ راجیوگاندي بدون زرق و برق و عاري ازموضوعات بود . بعد ازقتل راجیوگاندي حزب کانگرس و بي - جي - پي تلاش کردند که ستراتیژي هاي انتخاباتي خودرا تغیر دهند . حزب کانگرس امیدواربود که یك موج همدردي بخاطر قتل راجیوگاندي رأي دهندگان را بطرف آن بکشاند . حزب مردم هند یعني بي- جي - پي شعارثبات را ازحزب کانگرس به سرقت برد ودرعین حال خواست احساسات نیروهارا برانگیزد که به نظربسیاري رأي دهندگان و مبصرین یك حرکت ضد مسلمانان هند بود . گرچه بي - جي - پي این اتهام را رد کرد .

یک کنفرانس جهاني ازوسعت مرض ایدزدرجهان هوشدارداد

روم - ٢٧ جوزا

یك کنفرانس جهاني برمرض ایدز یعني ازبین رفتن معافیت طبیعي بدن درمقابل امراض درفلورانس در ایطالیا افتتاح گردیده وکشورهاي درراه انکشاف اخطار دادند که این مرض به زودي سراسرجهان رافراخواهد .گرفت . یك مأمورسازماني صحي جهان دراین کنفراس گفت که جهان سوم روي یك کوه آتش فشان نشسته است . وي هشدارداد که مرض ایدز طوروناگهاني وسعت خواهد یافت و ٩٠ فیصد مریضان درکشورهاي در راه انکشاف خواهند بود .

مجاهدينو په يوه راکټي ...

بریدونوکښي دفتح شوي قرارګاه څخه یومیل زیکاویك بوراکټ (ار - بي - جي ٧) دبوزیات مقدار رنګارنګ نظامي مهماتو سره په ولجه نیولي او وروسته قرارګاه ئي خالي کړیده .

خبرګاي پدي بریدونوکښي دمجاهدینو تلفاتو په برخه کښي څه ندي ویلي .

(میدیا)

د هرايت ولايت د ...

خبرحاي په یوبل رپوټ کښي ویلي دي چي دغه راز مجاهدینو دهرات په سارکښي درژیم په ١٧ فرقه باندي دجون په ١١ نیټه حمله کښي (٥) تنه عسکر وژلي او ١٥ نورئي ټپیان کړي دي اودروند مالي تاوان ئي وراړولي دي

د ١٩٨٧ ع كال څخه راهيسې ...

ګهون وکړي . (١٩٨٧ ع کال څخه راهیسي دا لومړي ځل دي چي ایراني حاجیان د حج په مراسمو کښي برخه اخلي . په ١٩٨٧ ع کال کښي د ایراني مظاهره کوونکو حاجیانو او د سعودي عربستان د امنیتي قواؤ ترمینځ په نښتو کښي څه د پاسه (٤٠٠) تنه ایرانیان وژل شوي وو .

راجيو ته ...

سیاست ته فروغ ورکړ . ده د خپل قدرت ساتلو لپاره هند د ژبي په بنیاد په مختلفو برخو تقسیم کړ په ګانګرس کښي د بدعنوانیودورهم د نهرو په وخت کښي شروع شو . اندراګاندي هم د نهرو په پل باندي پل کیښود او اختلافاتوته بي لمن وهنه شروع کړه . اوخپل قدرت یې پري وساته . په هند کښي د قدرت مفهوم څه ؟ لوټول ، چور او چپاول . پخوا به د بهرڅخه خلك راتلل اوهند به یې لوټ اوتالاکي مګرنن لښیره او بي کاره خلك په هیواد کښي موجود دي کوم سیاستمدار چي په هند کښي قدرت ته ورسیږي هغه دومره مال اودولت لوټ اوتاراج کړي چي تردریو پیړیوري ورته کافي وي . په هند کښي اقتدار د دولت د حاصلولو مهمه ذریعه بلل کیداي شي .

د ملګرو ملتونو اداري د عراق د ..

ادعا په اړوند کوم دلیل نشته خوسربېره پردې د بریتانیې حکومت بغداد ته خبرداري ورکړیدي چي پداسي یوعمل باندي لاس پوري نکړي .

ربوټ زیاتوي چي د امریکا حکومت د ملګرو ملتونو د اداري څخه غوښتي دي ، دهغو ادعاګانو په هکله چي وائي د عراق حکومت د ملګرو ملتونو څخه د خپلو اتومي وسلو ځيني تأسیساتي مرکزونه پټ ساتلي دي . پلټنې ترسره کړي چي داکار د خلیج د جګړي د اوربند د پریکړي ضد بوکاردي .

راپور زیاتوي څنګه چي نړیوال تشویش د عراق په شمال کښي د کردانو په باب موجود ؤ له هندي کبله د نوموړي هیواد په جنوب کښي د شیعه ګانو غمجن حالت ته ډیره زیاته پاملرنه نده شوي د ملګرو ملتونو سازمان ویلي دي دوي چمتودي چي د عراق په جنوب کښي دهغو شیعه ګانو لپاره چي د ایران نه دوباره راستنیږي ورته انتقالي کمپونه جوړکړي خوزیاته کړي یې ده چي په هیڅ صورت سره به ورته د عراق د شمال په څیر خوندي او مستون کمپونه جوړنشي خو ستونزه داده چي شاید ملګري ځواکونه هم دا کارونکړي داځکه چي اوس د خلیج څخه د امریکا وروستي یوځي ځواك د وتلو په حالت کښي دي ، ملګري ځواکونه نور نه غواړي چي په عراق کښي پاتي شي نو ددي لپاره د داد د ترلاسه کیدو بوازیني لاره داده چي خپل یوځي ځواکونه په منظمه او پیلي توګه له عراق څخه وباسي او په مقابل کښي د عراق د حکومت څخه تعهد ترلاسه کړي .

مجاهدينو د غزني ...

اوملیشه یې وژلي او دوه عرادي ټانکونه ئي داورلبه کړیدي .

ربوټ زیاتوي چي پدي جګړه کښي دمجاهدینو څخه یوتن په شهادت رسیدلي دي .

به اثرآب خیزی ...

اسلامي افغانستان به کمك مهاجرین مصیبت زده شتافته و ازدادن هرنوع کمك و همکاري به برادران مهاجر خویش دریغ نورزیدند ، و صد ها فامیل را از منطقه، سیلاب به مراکز امن مربوطات هجرت کلي انتقال داده و نان و آب براي شان تهیه و تقدیم داشتند .

در عملیه کمك رساني محترم حاجي محمد دوران رئیس کمیته مهاجرین و برادر قاضي نوراحمد معاون وي خدمات قابل قدري در زمینه انجام دادند

روسها با بمباران ...

در راپور ذکرشده که جنگ هاي شدیدي میان مجاهدین و قواي رژیم در ولایت بادغیس که از ٢٠ روز پیش آغاز شده است همچنان ادامه دارد .

« میدیا »

پته :

پیښور - پاکستان

P.O.BOX---- 467